
# د NSW د میشته کیدلو ستراتیژي

د NSW د حکومت د میشته کیدلو د ستراتیژي موخه دا ده چې په NSW کې د میشته کدوالو لپاره د اوسیدلو پایلو ته وده ورکړي. دا ستراتیژي په ایالت او استرالیا کې د خپل ډول لومړې بیلګه ده او د پناه غوښتونکو او ټولني لپاره د شپږو لنډ مهاله پایلو د ترلاسه کولو لپاره کار کوي.

د NSW حکومت او ټولنه ډاډ ورکوي چې خدمات او مالومات - چې د کډوالو اړتیاوې په ګوته کوي - شتون لري.

د NSW حکومت ډاډ ورکوي چې خدمات او مالومات، کډوالو ته د لاسرسي وړ دي.

د NSW حکومت د میشته کیدلو پلان او ارزونه د ژوندي تجربې په اساس ده.







د NSW حکومت د میشته کیدلو د موخو، پالیسی، او پایلو په اړه په ملي پریکړه کولو کې نفوذ ډیر کړی دي.

د NSW حکومت د ځای تکلارې او د ټولنې شبکې د استوګنې په پالنه کې شاملوي، په شمول د ښه راغلاست.

د NSW حکومت د شواهدو پر بنسټ د میشته کولو پلان د ملاتړ لپاره د مالوماتو راټولولو او تحلیل پروسې ښې کړې دي.

**دا ستراتیژي د میشته کولو پیچلي ایکوسیستم پیژني چې په NSW کې شتون لري او اوږدمهاله پایلې چې د دولت ټولې اداري او غیر دولتي سکتور ته اړتیا لري چې د لاسته راوړلو لپاره په ګډه کار وکړي.**

**د NSW د میشته کیدلو ستراتیژي په ابتدایي توګه په هغه پناه غوښتونکو تمرکز کوي چې د دوئ د میشته کیدلو د سفر په لومړیو 10 کلونو کې دي او په NSW کې ژوند کوي.**

**د NSW د میشته کیدلو د ستراتیژي د موخو لپاره د "پناه غوښتونکو" اصطلاح ټول پناه غوښتونکي او د پناه غوښنونکو په څیر پس منظر لرونکي خلک شامل دي، په ګډون د هغه خلکو چې د پناه کولو غوښتنه کوي.**

## دا ستراتیژي د NSW حکومت اوسني او نوي هڅې سره یو ځای کوي چې:

- دا تشریح کړئ چې د NSW حکومت د میشته کیدلو د مزلونو څخه مانا څه ده او بریالۍ میشته کیدل څه مانا لري
- د تصمیم د نیولو په برخه کې د ژوندۍ تجربې غږ شامل کړئ
- د NSW په حکومت کې د همکارۍ، همغږۍ، ستراتیژیک پلان جوړونې او خدماتو وړاندې کولو ته وده ورکول او رسمي کول دي
- د ټول NSW په حکومت کې د دوامداره پرمختګ، ارزونې او ظرفیت لوړولو ډاډ ترلاسه کړئ ترڅو د میشته کیدلو بریالي پایلې یقیني کړي
- د ټولو اړخونو د فعالینو او ټولنو پراخه لړۍ ښکیل کړئ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې پناه غوښتونکي وده وکړي
- د کمونویلت، نورو ایالتونو او سیمو او محلي حکومتونو سره د موجوده ستراتیژیکو همکاریو جوړول او وده ورکول ترڅو په ملي پریکړه کولو اغیزه وکړي.

## د NSW د میشته کیدلو په ستراتیژي کې شامل دي:

**د پلي کولو پلان** په ګوته کوي چې څرنګه د NSW حکومت دیته دوام ورکړي او موجوده نوښتونه به پیاوړي کړي او د پیژندل شویو تشو د حل لپاره اضافي نوښتونه پلي کړي.

**د ارزونې چوکات** د NSW حکومت سره مرسته وکړي چې پرمختګ وڅاري او اندازه یې کړي او مالومات ولري چې په NSW کې د راپورته کیدونکیو اړتیاوو ته غبرګون ولري.

**د NSW د میشته کیدلو ستراتیژي د Multicultural NSW لپاره یو ستراتیژیک لومړیتوب دي او د NSW د حکومت لخوا پلي کیږي.**